Pittsburgh Public Schools

**وېنې ان والټرز، Ed.D. د ښوونځيو سرپرست**

S. Bellefield Avenue 341
15213 Pittsburgh, PA

superintendentwalters@pghschools.org
412-529-3600

www.pghschools.org
د والدينو د ټليفون کرښه: 412-529-HELP (4357)

2022، د ډسمبر 21 مه

درنو والدينو/سرپرستانو/د زده کړې په برخه کې پرېکړه کوونکو:

زه هيله مند يم چې په داسې حال کې چې موږ د اشنايي او رغېدو پر مهال غوره کار ترسره کوو، هر څه به ښه وي.  پر دې سربېره، زه له تاسو څخه د پېټزبورګ عامه ښوونځيو ته ستاسو له دوامدارې ژمنتيا څخه د يوه کليدي ذينفع په توګه مننه کوم.

د پېټزبورګ عامه ښوونځي د زده کړو پر اختلال او پر ټولو زده کوونکو او پاتې ملت د هغې اغېز په رسميت پېژني. د زده کړې د اختلال په پايله کې به معلوليت لرونکي زده کوونکي (IEP او 504 پلانونه)، چې هغه ارزونې يا خدمتونه يې ترلاسه کړي نه وي چې د 2020 کال د مارچ مياشتې له 16 مې څخه د 2022 کال د جون تر 16 مې پورې (د وبا دوره) ورته متسحق وو، نو کېدای شي اړ شي چې د کوويډ دورې د جبران کولو اړتيا ولري.

تاسو د IEP يا 504 پلان لرونکي زده کوونکي د والدينو/سرپرست/د زده کړې په برخه کې تصميم نيوونکي په توګه، زه شخصاً تاسو ته خبر درکوم چې د پېټزبورګ عامه ښوونځي د کوويډ دورې د جبران لپاره د خدماتو نوی پلان لري، عنوان يې دی CCS 2.0، تر څو زموږ پر معلوليت لرونکو زده کوونکو د وبا اغېز له منځه يوسي.

ناحيه د IEP او 504 ليدنې د ټولو مستحقو زده کوونکو لپاره ترسره کوي تر څو د وبا دورې پر مهال له لاسه ورکړی فرصت او همدارنګه د کوويډ هغه جبراني خدمتونه تعيين کړي چې بايد زده کوونکو ته وړاندې شي.

ستاسو د IEP يا 504 پلان د ټيم لپاره لومړنی ګام دا دی تر څو ليدنه وکړي او دا معلومه کړي چې ستاسو ماشوم تر کومې کچې د کوويډ د جبران خدمتونو ته اړتيا لري چې په مجازي، ترکيبي او/يا د کوويډ له امله را منځته شوی دوامداره اختلال چې حضوري زده کړې ته د راګرځېدو پر مهال هم موجود و او هغوی ته چمتو شوي نه دي.

ضميمه شوی يو چېک لېست دی چې له تاسو سره مرسته کوي تر څو د وبا دورې پر مهال د خپل ماشوم د زده کړې په اړه فکر وکړئ او د 504/IEP ليدنې لپاره چمتو شئ.  کله چې 2023 ته ځئ، تاسو به د خپل ماشوم له ښوونځي څخه تازه معلومات او راتلونکي ګامونه ترلاسه کړئ؟  د CCS 2.0 په اړه د معلوماتو لپاره، په مهربانۍ سره www.pghschools.org/CCS2.0ته مراجعه وکړئ. موږ په خپله وېب پاڼه کې د معلوماتي وېب نارونو او لېنکونو د جوړولو په پروسه کې يو تر څو تاسو ته اضافي معلومات چمتو کړو.

کله چې موږ د را رواني رخصتۍ دورې پر لور ځو، تاسو او ستاسو کورنۍ ته نېکې هيلې لرو.

تاسو په زده کړه کې،

وېنې ان والټرز، Ed.D.
د ښوونځيو سرپرست

د پيټسبورګ عامه ښوونځي (PPS) په خپلو برنامو ، فعاليتونو يا دندو کې د نسل ، رنګ ، ملي اصل ، جنس ، معلوليت يا عمر پراساس تبعيض نه کوي.
فعاليتونه يا دندې او د هلکانو سکاوټس او نورو ټاکل شوي ځوانانو ډلو ته مساوي لاسرسی چمتو کوي. ستاسو پوښتنې دوی ته راجع کېدی شي
پوښتنې کيدای شي د IX عنوان همغږي کونکي يا د ADA/504 برخې II عنوان همغږي کونکي ته په 341 S. Bellefield Avenue, Pittsburgh, PA 15213 يا 412.529. HELP (4357) واستول شي.